(١)

# د ځوانانو حقونه او واجبات

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى»** ژباړه: « هغوی څو تنه زلمیان ول چې پر خپل پروردګار یې ایمان راوړی ؤ او موږ هغو ته په هدایت کي پرمختګ ورپه برخه کړی و» او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زموږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د ځواني پړاو د انسان د عمر د مهمو پړاونو د جملي څخه ګڼل کیږي،ځکه چې دغه پړاو د بدني پیاوړتیا همدارنګه د ورکړي او د پراخي هیلی یوه دروازه ګڼل کیږي او د ژوند چاری ځوانان کولي شي په سمه توګه پرمخ یوسي بی له شکه چې ځوانان ددغه امت ستني ګڼل کیږي او ددغه امت زړه او پیاوړي هڅونکي او مرسته کوونکي ګڼل کیږي هیڅوک نشي کولاي چې د هیوادونو په جوړونه کې د ځوانانو د مهم رول څخه انکاروکړي همدارنګه د امتونو د ودي او د پرمختګ په برخه کې هم ددوي د هڅو هیرونه نشي کوی څوک، قرانکریم هم د ځواني د پړاو په هکله بیلابیل ایتونه روارړي دي چې دغه پړاوته یی د پیاوړتیا او د قوت پړاو ذکرکړی دی او دا یی ددو کمروزو پړاونو په منځ کې راوستی ده چې یو د ماشوموالي پړاو دی او بل هم د سپین ږیری توب لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمایي:**« اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً»** ژباړه:**« الله پاك هغه ذات**

**دی چي تاسي يې (د کوچني توب) په کمزورۍ بنه پيدا کړئ، بيا له هغې کمزورۍ څخه وروسته يې تاسي ته قوت در وبښه، بيا له هغه قوت څخه وروسته يې تاسي کمزورۍ او زوړوالي ته ورسولاست»** نو د همدي لپاره د نبوت او د رسالت چارې هم پيغمبرانو ته د ځواني په مرحله کې سپارل شوي دي لکه چې الله جل جلاله د يوسف عليه السلام په هکله فرمايلي دي:«وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ» ژباړه:« او کله چي هغه پوره ځوانی ته ورسېدی، نو موږ هغه ته د فېصلې قوت او علم ورکړ. په دغه ډول موږ نېکانو ته مکافات ورکوو» د موسی عليه السلام په هکله فرمايي:« وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ» ژباړه:« او کله چي هغه پوره ځوانۍ ته ورسېدی، نو موږ هغه ته د فېصلې قوت او علم ورکړ. په دغه ډول موږ نېکانو ته مکافات ورکوو» ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې الله جل جلاله هيڅ نبي ندی راليږلي مګر هغه د ځواني په پړاو کې راليږلي او هيڅ عالم ته يې علم ندی ورکړی مګر هغه ته يې د ځواني په پړاو کې دغه علم ورکړی دی ابراهيم عليه السلام چې کله د بوتانو د عبادت کوونکو سره جګړه کوله نو هغه هم د ځواني په پړاو کې وو لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« **قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ» ژباړه:«ځينو خلکو وويل: "موږ له يو زلمي څخه د هغو يادونه اورېدلې وه، د هغه نوم ابراهيم دی»** همدارنګه قرانکريم ديته اشاره کړی ده چې د سليمان عليه السلام پوهه او هوښيارتيا د ځواني په پړاو کې ډيره زياته وه لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا» ژباړه:« نو په هغه وخت کښي موږ د فېصلې صحيح صورت سليمان (ع) ته وښودی. پداسي حال کښي چي موږ حکم او علم دواړو ته ورکړی ؤ» همدارنګه موسی عليه السلام د ځواني په پړاو کې وو چې ډير پياوړی ځوان وو او امانت يې امانتدار ته سپارلو همدا وو چې د صالح عليه السلام لور د خپل پلار څخه غوښتنه وکړه چې هغه د

خادم په توګه سره ونیسي لکه چې الله جل جلاله پدې هکله فرمايي:« قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ» ژباړه:« له هغو دوو ښځو څخه یوې خپل پلار ته وویل: "پلاره جانه، دغه سړی نوکر ونیسه؛ دی تر ټولو یوه غوره څوک دی چې نوکر یې نیسې، ځکه چې قوی او امانتدار دی» همدارنګه یحیی علیه السلام ته چې الله جل جلاله کله به خطاب کولو نو د علم د ورکړی امانت یی او همدارنګه د امانت چاری ورته سپارلي نو هغه ډیر د قوت اود ځواني په پړاو کې وو لکه چې الله جل جلاله ورته فرمایلي:« يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا» ژباړه:« له هغو دوو ښځو څخه یوې خپل پلار ته وویل: "پلاره جانه، دغه سړی نوکر ونیسه؛ دی تر ټولو یوه غوره څوک دی چې نوکر یې نیسې، ځکه چې قوی او امانتدار دی».
دا چې د انسان د عمرونوپه پړاو کې دا پړاو ډیر ډیر اهمیت لري نو پیغمبر علیه السلام هم ددی بیان کړي دی چې یقینا الله جل جلاله د قیامت په ورځ به ځانګړي پوښتنه کوي چې انسان ددی څخه ګټه بورته کړی ده او کنه او آیا د ځواني څخه یی ګټه پورته کړي ده چې خپل ځان او نورو ته پري ګټه ورسوي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د قیامت په ورځ به د بنده څخه د څلورو خصلتونو څخه به پوښتنه کیږي یو د هغه د عمر په هکله چې په څه کې یی تیر کړی دی د ځواني په هکه چې څه یی کړي دي او د مال په هکله چې د کوم ځاي څخه یی ترلاسه کړي او په څه کې یی مصرف کړی دی او د علم په هکله چې آیا عمل یی پری کړی او کنه؟.
د اسلام مبارک دین ځوانانو ته ډیر اهمیت ورکړی دی او هغوي ته یی بیلابیل حقونه او واجبات ورکړي دي ځوانان ته د تعلیم د حق او همدارنګه هغوي ته د وعظ کولو او د هغوي د ښه روزني لپآره بیابیل حقونه ورته ورکړي، قرانکریم د لقمان حکیم هغه کیسه راخیستی ده چې خپل ځویته یی بیلابیل حکیمانه خبری یی کولی او په هغه کې یی دیني

اړخونه په نظر کي نيولي وو او همدارنګه هغه يی ديته هڅولو چې سمون والی رامنځته کړي او په اخلاقی ارزښتونو باندي ځان سمبال کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ، يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ * يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ * وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ * وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ» ژباړه:« هغه وخت (ياد کړه) چي لقمان خپل زوی ته نصيحت کاوه. نو هغه وويل: "زويه! له خدای سره څوك مه شريکوه. حق دا دی چي شرك ډېر لوی ظلم دی، (او لقمان وويل) زويکيه! يو شی (نېکي يا بدي) که د اوري د دانې په اندازه هم وي او په کوم لوی ګټ يا په اسمانونو يا ځمکه کي پټ شوی وي، الله به هغه راوباسي. بېشکه، الله باريك ليدونکی او باخبره دی، زويکيه! لمونځ قايم کړه، په نېکۍ امر وکړه، له بدۍ څخه منع وکړه او هره سختي يا غم چي درباندي راشي، صبر درباندي وکړه، دا هغه مهمي خبري دي چي ډېر تاکيد يې شوی دی، او له خلکو سره په مخ اړولو خبري مه کوه، پر ځمکه په خيال (په غرور) مه ځه، الله هيڅ يو، په ځان مين او وياړ ښکاره کوونکی انسان نه خوښوي، او له خلکو سره په مخ اړولو خبري مه کوه، پر ځمکه په خيال (په غرور) مه ځه، الله هيڅ يو، په ځان مين او وياړ ښکاره کوونکی انسان نه خوښوي».

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم د ځوانانو د هڅوني لپآره د هغوي بيلابيلي چاري ترسره کړي او هغوي ته يی ډير اهميت ورکولو او هڅه يی کوله ترڅو د هغوي وړتيا لوړه کړي او هغوي چمتو کړي او د هغوي په زړونو او عقلونو کې د دين لويالي او د علم مينه او محبت رامنځته کړی لکه چې د ابن عباس رضی الله عنهما څخه يو حديث راغلی چې

هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یوه ورځ روان وو نو هغه ورته په بیلابیلو برخو کی نصیحتونه وکړل چې بدي کې یو نصیحت هم دا وو چې باید ځواني څخه ګټه پورته کړي همدارنګه ځوانانو ته باید ښه روزنه ورکړل شیاو هغوي په تعلیم باندي سمبال کړی شي ترڅو ځوانان هم وکولای شی چې د خپلی ځوانی حق او پور ادا کړي او د خپل علم او د توان په اندازه باندي خلکو ته ګټه ورسوي او به هر ځای کی مسولیت په سمه توګه پرمخ یوسی لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم بیلابیل ځوانان په بیلابیلو دندو باندي یی ګمارلي وواو د هغوي د توان په اندازه هغوي ته دندي ورکړی وی لکه چې پیغمبر علیه السلام ارقم بن ابي ارقم ته د امانتداري چاری ورته سپارلي وی او همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم اسامه بن زید ته د مسلمانانو د پوځ چاری سپارلی وی پداسی حال کې چې د هغه عمر د شلو کالو څخه نه وو تیر شوی.

عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه هم خپل مجلس ته ځوانان راوستل او د سپین ږیرو ترڅنګ به د هغوي څخه هم په بیلابیلو چارو کې مشوری اخیستلی او تل به یی دا ویل چې تاسو د یو چا د کم عمری ددی معنی نشي چې تاسو د هغه څخه مشوره وانخلي ځکه چې علم هرچاته ورکول کیږي او چې د الله جل جلاله چاته خوښه شي هغه ته علم ورکوي او د هغه په مجلس کې به ځوانان هم ناست چې په سر کې هم عبدالله ابن عباس رضي الله عنه راتلو چې د هغه په هکله عمر رضي الله عنه بیلابیل صفتونه کړي دی چې هغه به ویل چې هغه یو ښه ژبه اود عقل څخه ډک زړه لري یواځي دا نده چې ځوانا خپل رول اداء کړي بلکي دی که د ښځو لپآره هم اړینه ده چې هغوي هم خپل رول اداء کړي د اسلامي تمدن په جوړښت کې ښځو هم خپل رول اداء کړی دی او د جګړي اود سولي په وخت کڅ هغوي بیلابیلي چاري پرمخ وړلي دي لکه چې اسماء بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنهما به د نبوي هجرت په وخت کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او خپل پلار ته به د خوراک او

ښخبناک بندوبست کولو او همدارنګه له هغه وروسته بیا په بیلابیلو جګړو کې هم ښځو خپل رول اداء کړی دی لکه چې د احد په جګړه کې هم د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې عایشه بنت ابوبکر صدیق او ام سلیم به د جګړه پرمهال به دوي پوځیانو ته به اوبه ورکولي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د ځوانانو واجبات ډیر زیات دی چې پدي کې لومړي دادای چې ځوانان باید خپل نفسونه د علم او په کلتوربانديي سمبال کړی او همدارنګه د نور علم د ترلاسه کولو لپآره کار وکړي ځکه چې په علم کې هرڅومره پرمختک راځي نو همدومره باید د ودي او پرمختګ سره دوي پرمختګ وکړي او نوي علوم ترلاسه کړي او همدارنګه بازار او همدارنګه کار ته وګوري چې څه اړتیا لري او همدارنګه د هیوادوالو اړتیاوي باید پوره کړي او بیلابیلي پروګرامونه او بیلابیل داسی چاری رامنځته کړي چې وکولاي شي چې خپلو ولسونو مرسته وکړي او همدارنګه پدي کې بیلابیلي تجربي ترلاسه کړي ترڅو وکولاي شي چې د ننګونو مخنیوي وکړي او الله جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته امر کړي وو چې په علم په ترلاسه کولو کې باید هڅه وکړي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته فرمایلي دي: وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا.

د ځوانانو د واجباتو څخه دوهم دادی چې دوي باید د تجربو څخه ګټه پورته کړي او تکبر ونکړي ځوانانو ته مناسبه ده چې د حکمت او تجربو څخه ګټه پورته کړي او د هغه چا څخه تجربه ترلاسه کړي چې هغوي تجربه لري ځکه چې د بیلابیلو نسلونو ترمنځ اړیکه د بشپړتیا ده نه دا چې دوي د یو له بل سره په ټکر کې وي همدارنګه زمونږ ځوانان باید تکبر لمنځه یوسي ځکه چې تکبر جوړښت نه رامنځته کوي بلکې ورانې رامنځته کوي لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمایلي دي:« وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولً» ژباړه: «په ځمکه کښي ویاړلی (په تکبُر سره) مه ځه، ته نه ځمکه څیرولای شې، نه د غرونو هسکوالی ته رسېدلای شې» همدارنګه پدي هکله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه هم بیالبیل حدیثونه راغلی دي چې په همدي باندي دلالت کوي.

د ځوانانو د واجباتو څخه دریم همدادی چې د د ین او د هیواد د خدمت لپآره نیتونه باید یو واری بیا نوي کړو انسان خپل هیواد او د دین لپاره باید په صداقت سره کار وکړي او خپل نیت باید صادق کړي ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې دارمدار د ټولو اعمالو د نیت پوري تړاو لري او د هر هغه چا لپاره چې نیت کوي همغه څه دي چې نیت یی کړی وی.

د ځوانانو د واجباتو څخه څلورم دادي چې باید د چانسونو او فرصتونو څخه ګټه پورته کړي او هڅه وکړي چې ترڅو نور هم علم ترلاسه کړي او د خپلي ټولني د ودي او پرمختګ لپاره کار وکړي او همدارنګه هغه چاري چې دوي ته سپارل شوي دي دوي په سمه توګه سره پرمخ یوسي ترڅو د ټولنو او د هیوادونو لپاره ګټه ورسوي.

او د ځوانانو د واجباتو څخه پنځم هم دادي چې د خپل هیواد لپاره باید کار وکړي او همدارنګه د هیواد او د هیوادوالو حق باید اداء کړي او هغه خاوري څخه دفاع وکړي چې دا پکي ژوند کوي او د هغه د تاریخ ساتنه

وکړي همدارنګه د خپل هیواد د خدمت لپاره ملاوتړي او د هغه د خاوري څخه دفاع وکړي.
ای الله! مونږ ته پخپل ځواني کي برکت واچوي او همدارنګه ټول ځوانان د ټوولو بدیو څخه وساتي او هغوي ته ددی توفیق رکړي چې جوړښت رامنځته کړي او همدارنګه د هیوادونو او د هیوادوالو د خدمت لپاره دوي چمتو کړی او زمونږ ګران هیواد مصر او د نړۍ ټول هیوادونه په امن او امان کې ولري.